هفته واره رساله

# غلا او ډاکې

(پښتو)



ترجمه:

TRANSLATION DEPARTMENT

(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# چورى ڈکیتی

دُعائے عطّار: یا اللّٰہ کریمه! څوک چې دا رساله ”د روضهٔ رسول پهٔ باره کښې خوندور معلومات“ ولولي یا واوري، هغهٔ ته د روضهٔ رسول پهٔ ادب سره حاضري نصیب کړې او هغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

پهٔ ”سَعَادَةُ الدَّارَین“ کښې دي چې جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ یو کس دربارِ رسالت کښې حاضر شو فَشَكَا اِلَيْهِ الْفَقْرَ وَضِيْقَ الْعَيْشِ وَالْمَعَاشِ او د غریبۍ او لوږې او د معاش د تنګۍ شکایت یــې وکړو نو د اللّٰه پاک اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِذَا دَخَلْتَ مَنْزِلَكَ فَسَلِّمْ اِنْ كَانَ فِيْهِ اَحَدٌ اَوْ لَمْ يَكُنْ فِيْهِ اَحَدٌ، یعنې چې کله تهٔ خپل کور ته داخل شې نو السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وایه که پهٔ کور کښې څوک وي او که نه وي، بیا پهٔ ما باندې سلام وایه او یو ځل ”قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ“ لوله، هٔغه کس هم داسې وکړل نو اللّٰه پاک د هغهٔ رزق فراخه کړو تر دې چې ګاؤنډیانو او خپلوانو ته هم د هٔغه رزق نه حصه ورسیدله۔ (سَعَادَةُ الدَّارَین، ص 84)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اووم اسمان فرښته

صحابي رسول، حضرت زید بن حارِثه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یو ځل د سفر د پاره د طائِف نه یو قچر پهٔ کرایه باندې واخستو، قچر والا ډاکو وو، هغهٔ هغوئي د ځان سره سور کړو او روان شو، یو شاړ ځائے ته چې ورسیدو نو د قچر نه یــې کوز کړو او پهٔ هغوئي باندې پهٔ چاړهٔ باندې د حملے کولو د پاره ور وړاندې شو۔ هلته هر طرف ته د مړو ډانچې خورې ورې

پرتې وې، هغوئي هغۀ ته وفرمائيل: اے انسانه! تۀ ما وژل غواړې نو ما له دومره مهلت راکړه چې زۀ دوه رکعته نفل وکړم- هُغه بد نصيبه وه وئيل چې ښه تۀ نـمونځ وکړه، ستا نه مخکښې هم ډيرو قتل شوو نـمونځونه کړي وو خو د هغوئي نـمونځونو د هغوئي ژوند بچ نه کړو-

حضرت زيد بن حارِثه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: چې کله زۀ د نـمونځ نه فارغ شوم نو هغۀ د وژلو د پاره زما خوا له راغلو، ما "یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ" وه وئيل- غيبي اواز راغلو، اے انسانه! تۀ دا مۀ وژنه- ډاکو چې دا اواز واوريدو نو اخوا ديخوا يـې کتل شروع کړل، خو څوک يـې هم پۀ نظر رانغلو نو بيا هغۀ زما د وژلو د پاره راوړاندې شو، ما بيا پۀ تيز اواز "یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ" وه وئيل، بيا غيبي اواز راغلو- پۀ دريم ځل چې ما "یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ" وه وئيل نو ما وليدلو چې يو کَس پۀ آس باندې سور دے، د هغۀ پۀ لاس کښې نيزه ده او د نيزې پۀ سوکه باندې د وور لمبه ده- هُغه کَس چې څنګه رانزدې شو نو ډاکو يـې پۀ سينه کښې پۀ نيزه باندې دومره تيز وه وهلو چې نيزه د هغۀ د سينې نه پورې راپورې ووتله او هُغه ډاکو پۀ زمکه باندې راپريوتو او مړ شو- بيا هُغه [پۀ آس] سور کس ما ته وه وئيل چې کله تا پۀ وړومبي ځل "یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ" وه وئيل نو زۀ پۀ اووم اسمان کښې ووم، چې کله تا پۀ دويم ځل "یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ" وه وئيل نو زۀ پۀ دنيا کښې ووم او چې کله تا پۀ دريم ځل "یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ" وه وئيل نو زۀ ستا د مدد د پاره راورسيدم- (الاستیعاب فی معرفۃ الاصحاب، 117/2۔ کراماتِ صحابہ، ص 322) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کیوں کرنہ میرے کام بنیں غیب سے حَسَن
بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د غلو او د ډاکوانو ظلمونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک د مبارکو نومونو په برکت سره غټې مصيبتونه لرې کيږي- د ظاهري اسبابو د اختيارولو سره سره د الله پاک په بارګاه کښې د خپلې پريشانۍ د لرې کيدو خواست کول هم پکار دي- ډير ځل داسې غيبي امداد کيږي چې بنده ورته حيران پاتې شي- په مخکښنۍ واقعه کښې د ظالم ډاکو د مرګ ډير عبرتناک بيان دے- افسوس چې د ډيرو پريشانو او غمونو نه علاوه غلو، ډاکوانو د وسلې په زور د څيزونو اخستو سره د مختلفو قِسمه د ذهني او جسماني تکليفونو سره سره د ګرانۍ له وجهې په پريشان حاله عوامو کښې ويره ترخه خوره کړې ده- هره ورځ د غلا او ډاکې خبرونه راځي- بلکې په سوشل ميډيا باندې خو اوس د داسې ويډيوز سلسله شروع شوې ده- چرته يو غريب کور ته ور شي او د لور جهيزکوم چې پلار او وروڼو ډير په سخته راجمع کړے وي، هغه لوټ کوي يـې او چرته محنت مزدوري کوونکے تنخوا واخلي او کور ته په خوشحالۍ خوشحالۍ روان وي نو هغه پيسے ترينه واخلي او دا ظالمان د هغه غريب خوشحالي په غم کښې بدله کړي- ياد ساتئ چې غلا او ډاکه حرامه او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- الله پاک په سورةُ الـبقره، آيت نمبر: **188** کښې ارشاد فرمائي: ﴿وَلَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ **ترجمهٔ كنزُ العِرفان**: او په خپل مينځ کښې د يو بل مال په ناحقه مهٔ خورئ-

**په تفسير "خزائِنُ العرفان"** کښې دي: په دې آيت کښې په باطله طريقه د چا مال خوړلو ته حرام فرمائيلے شوي دي که هغه په لوټ کولو وي او که په زوره په اخستو سره، په غلا سره يا په جوارۍ سره يا د حرامو تماشو يا حرامو کارونو يا د حرامو څيزونو په بدل يا د رشوت يا د دوروغو د ګواهۍ سره دا ټول منع او حرام دي- (تفسير خزائن العرفان، پ2، تحت الآية: 188، ص52)

ظلم وستم او د وسلې په زور باندې يا په بَل څهٔ طريقه غلا او ډاکې کوونکو ته د خدائے اَحکَمُ الحاکمين د پټ تدبير (يعني پټې فيصلې) نه ويريدل پکار دي، په

ژوند هیڅ باور نشته، مرګ څهٔ وخت، چرته هم راتلے شي، پته نه لګي چې پهٔ کومه ګولۍ ستاسو نوم لیکلے شوے وي، پهٔ اخبارونو کښې داسې خبرونه هم راځي چې د خپل ملګري ډاکو پهٔ ډزو بَل ډاکو مړ شو او کله غل او ډاکو د پولیس د ګولۍ ښکار کیږي او خپل انجام ته رسي- د غلو د بدۍ د پاره هُم دومره کافي ده چې د الله پاک خوږ اخري نبي، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: پهٔ غل باندې الله پاک لعنت فرمائیلے دے- (مسلم، ص716، حدیث: 4408)

د عارضي خوشحالو او د فاني دنیا د پاره د غلا او ډاکې پهٔ ذریعه حرام مال جمع کوونکو ته د الله پاک نه ویریدل پکار دي او د ربُّ العزّت پهٔ بارګاه کښې د زړهٔ نه رښتونې توبه کول پکار دي چې که د الله پاک د رحمت نه لرې شو نو د مرګ نه پس به څهٔ کوي؟ که پهٔ قبر او حشر کښې د الله پاک پهٔ عذاب کښې راګیر شو نو بیا به یې خوک بچ کوي؟ کم خوراک کول او د حلال رزق ګټلو فِکر کول پکار دي، که پهٔ حرام مال سره لکونه او کروړونه روپۍ حاصلې کړې او د عیش ژوند تیر هم کړې نو بیا هم یوه ورځ مړه کیدل دي، قبر ته به درسره مال او دولت نه ځي، که یقین مو نه راځي نو د یو مړي کفن وګورئ؟ آیا تاسو پهٔ یو کفن کښې چرته جیب لیدے دے؟ معلومه نه ده چې د کوم مظلوم ښیرې به ستاسو د پاره د دنیا او د اخرت د بربادۍ او هلاکت سبب جوړ شي- د غلو، ډاکوانو او د داسې ظلم زور کوونکو ژوند او مرګ دواړه ډیر د مذمت قابل وي- د مړو او پیشوګانو پهٔ شان پهٔ پټه ژوند تیروي- بلکې کله د پولیسو یا د عوامو پهٔ لاس داسې پهٔ عبرتناک مرګ مړه کیږي چې پهٔ سړي غونے ځیګ ځیګ شي- هسې هم د دې بد بختو پهٔ مرګ خلق خفګان نه کوي- الله کریم دې د ټولو عاشقانِ رسول حفاظت وکړي او مونږه ټول دې د ظالمانو د ظلم او د غلا او ډاکې وغیره د افتونو او بلاګانو نه محفوظ کړي- الله پاک دې مونږ ته د ایمان او عافیت سره د شین شین ګنبد پهٔ سورې کښې، د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ جلوه کښې د شهادت مرګ رانصیب کړي او مونږ ته دې پهٔ جنَّتُ البقیع کښې د دفن کیدو سعادت راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دنیا میں ہر آفت سے بچانا مولیٰ
عقبیٰ میں نہ کچھ رنج دِکھانا مولیٰ
بیٹھوں جو درِ پاک پیمبر کے حضور
ایمان پر اُس وقت اُٹھانا مولیٰ

(حدائق بخشش، ص 445)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د ډاکوانو انجام

په بندګانو باندې د ظلم زیاتي کولو او ویرولو ترخولو سره د وسلې په زور حرام مال حاصلوونکو ته د الله پاک نه ویریدل پکار دي ځکه چې د غلو او ډاکوانو په باره کښې په قرآن او حدیثونو کښې ډیر وعیدونه بیان شوي دي، په دُنیا او اخرت کښې د هغوئي د پاره ډیرې سختې سزاګانې دي۔

په **6** سیپاره، سورةُ الـمائده آیت نمبر: **33** کښې ارشاد دے:

اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِیْنَ یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ یَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ یُّقَتَّلُوْۤا اَوْ یُصَلَّبُوْۤا اَوْ تُقَطَّعَ اَیْدِیْهِمْ وَ اَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْیٌ فِی الدُّنْیَا وَ لَهُمْ فِی الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ﴿۳۳﴾

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بے شکه کوم خلق چې د الله او د هغهٔ د رسول سره جنګ کوي او په زمکه کښې د فساد جوړولو کوشش کوي د هغوئي سزا هُم دا ده چې هغوئي سم قتل کړے شي یا هغوئي په دار رازوړند کړے شي یا د هغوئي د یو طرف لاس او د یو طرف ښپه کټ کړے شي یا (د خپل ملک) د زمکې نه لرې کړے شي (یعني جلاوطن کړے شي) دا د هغوئي د پاره په دُنیا کښې رُسوائي ده او په آخرت کښې د هغوئي د پاره لوئے عذاب دے۔

په دې آیت مبارک کښې د ډاکو د سزا بیان دے۔

## غلا څهٔ ته وئیلے شي

غلا دا ده چې د بَل چا مال په ناحقه پټ واخستے شي - (بهارِ شریعت، 413/2، حصه: 9)

## د اِسلامي سزاګانو حِکمت

اِسلام د هر جرم سزا د هغې د نوعيت په لحاظ سره مختلفې ساتلې ده، د وړوکي جرم سزا لږه او د غټ د هغې د حيثيت مطابق سخته سزا لګولے شوې ده چې په زمکه کښې امن قائم شي او خلق ډاډه په سکون او ارام سره ژوند تير کړے شي- د دې نه علاوه هم بے شميره حکمتونه دي- د ډاکې کولو سزا ته وګورئ چې تر څو پورې په دې باندې عمل کيدلو نو تجارتي قافلې به د خپل بيش بها ساز او سامان سره بے ويرې ترخې سفر کولو چې له وجهې يې تجارت ډيره وده وکړه او خلق په معاشي لحاظ سره ډير مضبوط شول- اوس خو حالات داسې نازک شوي دي چې د بينک نه څوک پيسې راوباسي او راوځي نو د هغهٔ نه نغدې او موبائل په زوره اخستے کيږي، که څوک د بس مسافر دے نو هغهٔ هم هلته محفوظ نه دے، که څوک په خپله سورلئ باندې دے هغهٔ ځان زيات په خطره کښې محسوسوي-

(تفسير صراط الجنان، پ6، تحت الآية: 33، 423/2)

اے خاصہ خاصانِ رُسل وقتِ دعا ہے
اُمّت پہ تیری آکے عجب وقت پڑا ہے

## په ظلم د خلقو د مال اخستو په باره کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 7 فرامين

﴿1﴾ د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په غل باندې الله پاک لعنت فرمائيلے دے- (بخارى، 330/4، حديث: 6783)

﴿2﴾ څوک چې ښکاره لوټ مار کوي هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے-

(ابو داؤد، 184/4، حديث: 4391)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يعنې کوم ظالم چې ښکاره د خلقو مال په زوره واخلي او خلق ورته ګوري خو څه کولےنشي داسې ظالم زمونږه د طريقې،

زمونږه د جماعت نه خارِج دے، د اِسلام نه وتل ترينه مُراد نه دے چې دا جرم د فساد عمل دے د عقيدے فساد نه دے- ياد ساتئ چې د ډاکې سزاګانې مختلفې دي په بعضې حالاتو کښې به دوئي ته پهانسي ورکولے شي- (مرآة المناجیح، 5/305 ملخصاً)

﴿3﴾ غل د غلا کولو په وخت او ډاکو د ډاکې کولو په حالت کښې مؤمِن نه وي چې خلق خپل مال ورله ته په عاجز نظر کتونکي پاتې شي ځکه د دې نه بچ شئ، د دې نه بچ شئ- (بخاری، 3/ 579، حدیث:5578 ملتقطاً- مسلم، ص52، حدیث: 207)

شارِح د بخاري، حضرت علّامه مفتي شَرِيفُ الحق اَمجَدي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د دې نه دا مُراد هم کيدے شي چې ايمان کامِل وي نو څوک ګناه نشي کولے يا دا چې د مؤمِن دا شان نه دے چې دا ګناه وکړي- (نزهة القاری، 5/749 تسهيلاً)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: يعنې د دې ګناهونو په وخت د مجرم نه د ايمان نُور ووځي ګني دا ګناه کُفر نه دے- ډاکو ښه ښکاره مال لوټ کړي او مالک يـې د بچ کولو وَس نه لري يا خپل مال ته د ارمان په نظر کتونکے پاتې شي چې هئ زمونږه مال يـې يوړلو- په ډاکه کښې درې جرمونه شول: د بَل چا په مال باندې ناجائزه قبضه، په ښکاره د بَل مال په زوره اخستل، د زړهٔ سختي چې د خلقو په ارمان او آه او فرياد باندې زړهٔ نه خوږيږي- ځکه دا د ګناهونو مجموعه شوه، د مؤمِن د شان خلاف ده- (مرآة المناجیح، 1/73)

حضرت علّامه عبدُ المصطفٰے اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: مطلب دا دے چې د غلا په وخت د دې ګناه په نحوست سره د هغهٔ نه د ايمان نُور جدا کيږي او بيا چې کله هغهٔ د دې ګناه نه توبه کړي نو د هغهٔ د ايمان نُور واپس هغهٔ ته ميلاوُيږي- ياد ساتئ چې ډاکه کول، لوټ مار کول، د چا زمکه او مال او جائيداد په زوره اخستل، د چا نه د قرض په توګه څهٔ سامان اخستل او نه واپس کول، د چا نه قرض اخستل او واپس نه ادا کول، د چا په امانت کښې خيانت کول وغيره دا ټولې د غلا په شان کبيره ګناهونه

دي او دا ټول په قهر او غضب کښې د ګیریدو سبب او د وور د عذاب سبب دے-
(جهنم کے خطرات، ص 40، 39 ملتقطاً)

چوری کی راہ میں چھپے ہیں اندھیرے ہزار | ایمان کا نور چمکتا ہے راستے کے پار

﴿4﴾ د ټولو مسلمانانو خوره مور جانه حضرت بي بي عائشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: د قريشو د قبيلې يوې زنانه غلا وکړه نو د هغې خاندان والؤ حضرت اُسامَه بِن زَيد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته د نبي اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د سفارش کولو د پاره وه وئيل: حضرت اسامه بن زيد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سفارش وکړو نو نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: آيا ته د الله پاک په حدونو کښې د يو حَد په باره کښې سفارش کوې؟ بيا ودريدو او خطبه يـې ورکړله، بيا يـې وفرمائيل: ستاسو نه مخکښيني خلق دې خبرې هلاک کړل چې کله به په هغوئي کښې يوعزت مند ګس غلا وکړه نو هغهٔ به يـې پريښودلو او چې کوم کمزوري به غلا کوله نو په هغهٔ باندې به يـې حَد قائمولو- په الله مې دې قَسم وي! که فاطمه بنت محمد هم غلا کړې وه نو ما به د هغې لاس هم پريکړے وے- (بخاری، 468/2، حديث: 3475)

شرحِ حديث: په مُجرم باندې رحم هُم دا دے چې هغهٔ له پوره سزا ورکړے شي د چا سره هيڅ قِسمه رعايت اونه کړے شي ولې چې ددې سره په ملک کښې امن قائم پاتې کيږي او دا سزاګاني د الله پاک حق دے د چا په معاف کولو نه معاف کيږي- د "سيدّه" نوم اخستلو سره دا وئيل مقصد دے چې په شرعي سزا کښې د چا لوئي نه د لوئي درجے والا د پاره هم رعايت نشته، الله پاک فرمائي: ﴿وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ﴾ ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او تاسو د الله په دِين کښې په هغوئي زړهٔ مهٔ سوَزوئ- (پاره: 18، سورۃالنور، آيت: 2)

(مرأة المناجيح، 309/5)

﴿5﴾ ما په دوزخ کښې يو ګس وليدو کوم چې به د کړېې کونتې په ذريعه د حاجيانو څيزونه پټول، چې خلقو به هغهٔ په غلا باندې وليدلو نو وئيل به يـې: "زهٔ غل نه يم، دا

سامان زما پهٔ کړه کونتې کښې انښتے وو-" هغهٔ پهٔ وور کښې خپلې کړې کونتې ته ډېره وهلې وه او دا يې وئيل: "زهٔ د کړې کونتې والا غل يم-"

(جمع الجوامع، 27/3، حديث: 7076)

شرحِ حديث: د محجن (يعني د کونتې) [1] والا نوم، عَمرو اِبنِ لحیٰ دے، کله چې هغهٔ ګرځي راګرځي نو کولمې راکاږي- د رَبّ پناه! غرض دا چې سياسي غل وو چې د حاجيانو کپړې به يې پهٔ رڼا ورځ داسې پټولې چې اونه نيولے شي او غلا هم وکړي، مالک چې به وليدلو نو اوئې وئيل به يې ما ته خو پته نشته چې زما د محجن (يعني کونتې) سره ستا کپړه لګيدلې ده، که اوبه نهٔ ليدلے شو نو مال به يې خپل کړو-

(مراٰة المناجيح، 316/4 ملخصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا إِلَى الله! أَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

﴿6﴾ ظُلم به د قيامت پهٔ ورځ د تيارو پهٔ شکل کښې وي- (مسلم، ص1069، حديث: 6577)

شارحِ د بخاري حضرت علامه مفتي شريف الحق امجدي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: ظالم د ظلم پهٔ وجه ډېر ګناهونه کوي، او د الله پاک او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني کوي، يو کمزوري مسلمان له تکليف ورکول، پهٔ کنځلو کولو سره، پهٔ وهلو ټکولو سره يا د مال پهٔ زوره د اخستو سره يا دا ټول پهٔ يو ځائے کول لکه څنګه چې اکثر ليدلے شي- ځکه

---

[1] ... پهٔ حديث پاک کښې لفظ "محجن" راغلے دے، د دې معنیٰ ده: داسې چوکه د کومې غاړې ته چې اوسپنه لګيدلې وي او هغه د "هاکی" پهٔ شان راتاؤ وي- (اشعة اللمعات، 57/3)

به د دې پۀ سزا کښې د قيامت پۀ ورځ د ظالم د ظلم نه تيارې جوړيږي او هغۀ به راګيروي- (نزہۃ القاری، 668/3 ملتقطاً)

﴿7﴾ پۀ حرامو پاللے شوے بدن به جنّت ته نه داخليږي-

(مسند ابی یعلیٰ، 57/1، حدیث:79)

حافظ شَمسُ الدِّين محمد بن احمد ذهبي شافعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د دې حديثِ پاک د وعيد لاندې ډاکوان، غلۀ، ټوقماران، خيانت کوونکي دوکه باز او پۀ قرض د اخستے شوي څيز نه انکار کوونکي، پۀ ناپ تول کښې کمے کوونکي، عيب داره څيز د عيب پټولو سره خرڅوونکي، جواري کوونکي دا ټول پۀ ټوله داخل دي- (76 کبیرہ گناہ، ص90)

پۀ " مِرآةُ المناجيح" کښې دي: لکه څنګه چې د خاورو پۀ تيلو کښې لمده شوې کپړه پۀ وور کښې زر سوزي هم داسې به پۀ سود، رشوت، جواری، غلا وغيره حرام مال سره پيدا شوې غوښه د دوزخ پۀ وور کښې ډيره زر سوزي، څکه چې د خوراک نه وينه او د وينې نه غوښه جوړيږي څکه خوراک ډير پاک پکار دے، د حرام خوراک اثر پۀ ټول بدن باندې پريوځي- (مراٰۃالمناجیح، 258/4)

## ټوله قافله پۀ يواځې لوټ کوونکے ډاکو

ډير لوئي وليُّ الله حضرت فُضَيل بن عِيَاض رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د توبې نه مخکښې دومره خطرناک ډاکو وو چې ټوله قافله به يـې هُم پۀ يواځې لوټ کوله- يو ځل يوه قافله د هغوئي علاقې سره نزدې راتيريدله، پۀ هغوئي باندې پۀ هُغه ځائے کښې شپه راغله- هغوئي چې کله د ډاکې پۀ نيت باندې هُغې قافلې ته ورنزدې شول نو د بعضې قافلې والؤ نه يـې دا واوريدل: " تاسو د دې کلي طرف ته مۀ ځئ بلکې يوه بله لار اختيار کړئ دلته فضيل نومې يو خطرناک ډاکو اوسيږي-"

هغوئي چې کله د قافلې والؤ دا خبره واوريدله نو ويره پرې غالبه شوه او په تيز اواز يې ووئيل: اے خلقو! زهٔ فضيل بن عِيَاض ستاسو د وړاندې موجود يم، لاړ شئ! بے ويرې او بے خطرې لاړ شئ، تاسو زما نه **محفوظ** يئ- په خدائے مې دې قَسم وي! د نن نه پس به زهٔ چرې هم د الله پاک نافرماني نه کووم- د دومره وئيلو سره هغوئي د هٔغه ځائے نه لاړو او د خپلو تيرو ټولو ګناهونو نه يې توبه کړله او د حق د لارې په مسافرو کښې شامل شو- يو قول دا دے چې حضرت فضيل بن عياض رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِ په هٔغه شپه قافلې والؤ له ډوډۍ وکړه او اوئې فرمائيل: تاسو د فضيل بن عياض نه ځان **محفوظ** وګڼئ، بيا هغوئي د هغوئي د ښاروو د پاره د ګيا وغيره راوړلو د پاره لاړو چې کله واپس راغلو نو د چا نه يې د **27** سيپارې، د سورةُ الـحديد، د **16** نمبر آيت تلاوت واوريدو: ﴿ اَلَمۡ یَاۡنِ لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنۡ تَخۡشَعَ قُلُوۡبُهُمۡ لِذِکۡرِ اللّٰهِ ﴾ **ترجمهٔ كنزُ العِرفان**: آيا د ايمان والؤ د پاره لا هٔغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه د الله د ياد او د هٔغه حق د پاره ټيټ شي-

د قرآنِ کريم دا آيت د اثر غشے جوړ شو او د هغوئي سينه پرې ولګيدله- حضرت فضيل بن عياض رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِ په ژړا شو او په خپلو جامو باندې يې خاورې اچولې او وئيل يې: آؤ! ولې نه! په الله پاک باندې مې دې قَسم وي! اوس وخت راغلے دے، اوس وخت راغلے دے، هغوئي هم دغه شان ژړل او بيا يې د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړله- (عيون الحکايات، ص212) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وروڼه وروڼه شئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د ناپاک او حرام کار غلا او ډاکې دپاره غلهٔ او ډاکوان خپل مسلمان ورور ته په ترس نظر د ګوري ، ويروي يې ، دهمک ووركوي،

ترخوي يـې ، لاس پري اوچتوي ، وسلې پري راوباسي ، مال تري په زوره د اخلي او د زنانؤ نه د کالي وغيره د حاصلولو د پاره يـې زخمي کوي او دغه شان نور ډير ګناهونه کوي حالانکې زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "آيا تاسو ته معلومه ده چې مسلمان څوک دے؟ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض وکړو: الله پاک او د هغهٔ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښه معلومه ده- ارشاد يـې وفرمائيلو: مسلمان هغه دے د کوم د ژبې او لاس نه چې (بل) مسلمان محفوظ پاتې شي- ارشاد يـې وفرمائيلو: تاسو ته معلومه ده چې مؤمِن څوک دے؟ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض وکړو: الله پاک او د هغهٔ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښه معلومه ده- مؤمِن هغه دے د کوم نه چې ايمان والا خپل ځانونه او مالونه محفوظ وګڼي- (مسند امام احمد، 2/654، حديث:6942) يو بَل حديثِ پاک کښې وفرمائيلے شو: د الله پاک بندګانو! ورونړه ورونړه شئ، مسلمان د مسلمان ورور دے، په دهٔ باندې به نهٔ ظلم کوي، نهٔ به يـې رُسوا کوي-

(مسلم، ص1064، حديث: 6541)

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مسلمان مهٔ ويروئ! ځکه چې مسلمان ويرول ډير لوئي ظلم دے- (الترغيب والترهيب، 3/386، حديث:4301) چا چې يو مسلمان ته په ويرونکې نظر ناحقه وکتل نو الله پاک به د قيامت په ورځ باندې د دې په بدله کښې هغهٔ ويروي- (معجم کبير، 8/116، حديث: 7536)

## بدنصيبه خلق

حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "مَنْ اٰذٰى مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذَانِيْ وَمَنْ اٰذَانِيْ فَقَدْ اٰذَى اللّٰهَ" چا چې مسلمان له تکليف ورکړو هغهٔ ما له تکليف راکړو او چا چې ما له تکليف راکړو هغهٔ الله پاک له تکليف ورکړو- (معجم اوسط، 2/386، حديث: 3607) چا چې الله پاک له تکليف ورکړو اخر به الله پاک هغهٔ په عذاب کښې راګيروي-

(ترمذی، 5/463، حديث: 3888)

حضرت علامه اسماعيل حقي رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه فرمائي: ايمان والؤ له تكليف وركول لكه چي رسولُ الله صَلَّى‌اللّٰهُ‌عَلَيۡهِ‌وَاٰلِهٖ‌وَسَلَّم له تكليف وركول دي او رسولِ كريم صَلَّى‌اللّٰهُ‌عَلَيۡهِ‌وَاٰلِهٖ‌وَسَلَّم له تكليف وركول لكه چي الله پاک له تكليف وركول دي نو لكه څنګه چي الله پاک او د هغهٔ حبيب صَلَّى‌اللّٰهُ‌عَلَيۡهِ‌وَاٰلِهٖ‌وَسَلَّم له تكليف وركوونكے پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت كښي د لعنت حقدار دے هم دغه شان ايمان والؤ له تكليف وركوونكے هم پهٔ دوارو جهانونو كښي د لعنت او رسوايۍ حقدار دے-

(تفسير روح البيان، پ22، تحت الآية: 58، 239/7)

عظيم تابعي بُزرګ حضرت مجاهد رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه فرمائي: پهٔ دوزخيانو باندي به خارښ مسلط كړے شي نو هغوئي به خپل بدن ګروي تر دې پورې چي پهٔ هغوئي كښي به د يو پهٔ خرمنه كښي هډوكي راښكاره شي نو هغهٔ ته به اواز كولے شي: اے فلانكيه! آيا تا ته د دې نه تكليف وي؟ هغهٔ به وائي: آؤ! اواز كوونكے به ورته وائي: تا به مسلمانانو له تكليف وركولو دا د هغې سزا ده- (احياء العلوم، 242/2)

هميشه ہاتھ بھلائی کے واسطے اُٹھیں
بچانا ظلم و ستم سے مجھے سدا یارب

(وسائلِ بخشش، ص 76)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوردو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله غني د بے نيازه شان نه قربان شم! چي كله هغهٔ عطا كوي نو څنګه عطا كوي، پهٔ ملفوظاتِ اعلىٰ حضرت كښي دي:

## ډاكو وَلي الله جوړ شو

(امامِ اهلِسُنَّت، اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه وفرمائيل:) د الله پاک پهٔ هدايت وركولو وخت نه لګي- حضرت ابو بكر بن هَوا رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه مخكښي شوكمار (يعني ډاكو) وو، قافلي به يے پهٔ يواځې لوټ كولي- يو ځل يوه قافله ايساره شوه، هغوئي هلته تشريف يوړلو، د يوې خيمې طرف ته لاړو، پهٔ هغه خيمه كښي ښځې خپل خاوند ته وئيل: مابنام رانزدې دے او پهٔ دې ځنګل كښي "ابو بكر بن هَوا" دے، هسې نه چي هغهٔ راشي!

بس دا وئیل وو چې د هغوئي د هدایت سبب جوړ شو، ځان ته یـې وفرمائیل: ابو بکـره! ستا حالت اوس داسې شو چې په خیمو کښې زنانه هم ستا نه ویریږي او تهٔ د خدائے نه نهٔ ویریږې! هُغه وخت یـې توبه کړله او کور ته واپس راغلو، د شپې اوده شو نو په خوب کښې ورته د نبي کریم (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) د زیارت سعادت حاصل شو، د حضور اقدس صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ابو بکـر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم وو، هغوئي عرض وکړو: بیعت راکړئ! ارشاد یـې وفرمائیلو: ستا نه به ستا په نوم [یعني ابو بکـر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ] بیعت واخلي، حضرت ابو بکـر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ترینه بیعت واخستو او خپله عمامه مبارکه یـې د هغوئي په سر باندې کیښودله، چې سترګې یـې وغړولې نو عمامه مبارکه موجوده وه- سِلسِلَه هَوارِیَه د هغوئي نه شروع شوه- (جامع کرامات الاولیاء، 1/425- ملفوظات اعلیٰ حضرت، ص 445 بالتسهیل)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د دوزخ خوټکیدلې اوبه

سلطان الواعظین مولاناابو النور بشیر کوټلوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه لکي :کومو خلقو چې د سود،رشوت،غبن او په نورو ناجائز طریقو سره چې کوم مال ګټلے اوخوړلے یـې دے صباد قیامت په ورځ به چې کله شهنشاهِ حقیقي په هغوي باندې د جهنم خوټکیدلې اوبهٔ څکي نو دغه ټول حرام مال به هلته راګرځول غواړي او غلهٔ به اونیولے شي نو بس هم نن د توبـې په ذریعه خپله معده صفا کول پکـاردي(سچی حکایات، 3/316 بتغیر)

## د غل،ډاکو نه لوئي ظالم

په ''تفسیرِ قُرطُبِي'' کښې دي: چې کوم غلهٔ او ډاکوان مسافر او خلق لوټ کوي او په هغوئي باندې ظلم زور کوي دا ټول په ظالمانو کښې شامل دي، په دې ټولو باندې به الله پاک د دوئي نه څوک لوئي ظالم مسلط کوي-(سچی حکایات، 3/316 بتغیر)

## د ناحقه قتل ګناه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! بعضې خونړي صفت لرونکي غلۀ او ډاکوان د ځان د پاره د دوزخ وور د نور زياتولو د پاره د خون خرابې نه هم ډډه نه کوي او داسې د مال او دولت سره سره بعضې وخت د يو کور يوزرے کفيل (يعنې رزق ګټونکے) شهيد کوي او څوک زنانه کونډه او ماشومان يتيمان کوي-

بعضې وخت غلۀ او ډاکوان د نيولے کيدو د ويرې نه يا د مخامخ کَس سره د مزاحت له وجهې ډزې وکړي او مخامخ کَس زخمي يا شهيد کړي او وتښتي، هغوئي دا ګڼي چې لکه مونږه د نيولو نه بچ شو خو ياد ساتئ چې که هغوئي پۀ دُنيا کښې د پوليس يا د قانون نه بچ هم شي نو د دې حرام کار نه د توبې او د توبې د تقاضو نۀ پوره کيدو له وجهې به د قيامت پۀ ورځ پۀ داسې ځائے کښې قيد شي د چرته نه چې به دا څوک نشي ازادولے- پۀ دُنيا کښې بعضې وخت د رشوت او تعلق پۀ وجه د جيل نه هم بهر راشي خو د قيامت پۀ ورځ به د عذاب نه بچ نشي- څوک مسلمان برناحقه وژل ډيره لويه ګناه ده- پۀ قرآن او حديث کښې د دې ګناه ډير سخت عذاب بيان شوے دے: پۀ **5** سيپاره، سورۃُ الـنساءَ آيت نمبر: **93** کښې ارشاد دے:

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې يو مسلمان قصداً قتل کړي نو د هغۀ بدله دوزخ دے د اُوږدې مودې پورې به پۀ هغې کښې اوسي او الله پۀ هغۀ غضب وکړو او پۀ هغۀ يې لعنت وکړو او د هغۀ د پاره يې لوئے عذاب تيار ساتلے دے-

## د ناحقه قتل عذاب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د مسلمان وژل معمولي خبره نه ده، نن سبا پۀ وړو وړو خبرو باندې قتلونه، غنډه توب، ترهګرې، ډاکې، خانداني جنګونه، د تعصب والا جګړې عامې دي- د مسلمانانو وينې د اوبو پۀ شان توئيولے شي- د وژلو نه پس به د قتل عذاب

اونه زغملے شي، د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے: "که د زمکې او اسمان والا د يو مسلمان په وژلو باندې راجمع شي نو الله پاک به ټول پرمخ دوزخ ته وغورځوي۔ (معجم صغير، 205/2) په يو بَل حديث کښې دي: د يو مؤمِن وژلے کيدل د الله پاک په نزد د دُنيا د تباه کيدو نه زيات لوئي دي۔ (نسائی، ص652، حديث:3992)

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی — قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## په محشر کښې ذِلّت او رُسوائی

اِمَام شَرَفُ الدِّين حُسَين بِن محمد طِيبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " چا چې په دُنيا کښې د زکوٰة يا د بَل يو مال نه غلا وکړه هغۀ به داسې راځي چې مال به يې راخستے وي، که هغه مال څۀ ځناور وي نو هغه ځناور به په زوره چغې وهي او هغه ټول محشر والا به يې وپيژني (چې دا غَل دے) چې د هغه سره ډير ذِلت او رسوائي اوشي۔

(شرح طيبی، 17/4، تحت الحديث: 1779)

## د شهادت درجه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! که د چا مال غلا شي او هغۀ په هغې باندې صبر وکړي نو هغۀ ته به د صدقے ثواب ميلاؤيږي او څوک چې د خپل مال بچ کولو، د خپل ځان يا د خپل کور والؤ په بچ کولو کښې وه وژلے شو هغۀ شهيد دے لکه څنګه چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې په خپل مال بچ کولو کښې وه وژلے شي هغۀ شهيد، څوک چې په خپل ځان بچ کښې وه وژلے شي هغۀ شهيد، څوک چې په خپل دِين بچ کولو کښې وه وژلے شي هغۀ شهيد او څوک چې د خپل کور والؤ په بچ کولو کښې وه وژلے شي هغۀ شهيد دے۔

(ترمذی، 112/3، حديث:1426۔ نسائی، ص667، حديث: 4101)

# ښکلے سوچ

د حضرت احمد بن حَرب رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په کاونړ کښې د يو کَس نه غلا وشوه- هغوئي د خپلو دوستانو سره د هغوئي خوا له د غمخورئ د پاره تشريف يوړلو- ګاؤنډي هغوئي ته ډير په روڼ تندي هر کلے وه وئيلو- حضرت احمد بن حَرب رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ وفرمائيل: مونږ ستا نه په شوې غلا باندې د افسوس کولو د پاره راغلي يو- ګاؤنډي يـې ووئيل: زۀ خو د الله پاک شُکر ادا کووم او په ما باندې د هغۀ درې شُکرونه واجب شوي دي- يو دا چې نورو زما مال پټ کړے دے، ما نۀ- دويم دا چې اوس هم نيم مال زما سره دے، دريم دا چې زما دُنيا ته يـې نقصان رسولے دے او دِين زما سره دے- (سچی حکایات، 4/ 142) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

آہ! دولت کی حفاظت میں تو سب ہیں کوشاں
حفظ ایماں کا تصوّر ہی مِٹا جاتا ہے

سُبۡحٰنَ الله! د الله والؤ څومره ښکلے سوچ وي چې مال لاړ و ايمان خو نه دے تلے، "څۀ مال" تلے دے ټول خو نه دے تلے- د الله پاک نيکان بندګان په ژبه باندې ګيلې معنې نه کوي په هر حال کښې د الله پاک په رضا باندې صبر کوي او اجر بياموي- ايمان بے بها دولت دے، چې دا سلامت وي نو هيڅ غم نه دې کول پکار، مونږ له هم پکار دي چې د خپل ايمان فِکر کوو-

یاخدا جسم میں جب تک کہ مِری جان رہے
تجھ پہ صدقے ترے محبوب پہ قربان رہے

کچھ رہے یا نہ رہے پر یہ دعا ہے کہ امیر
نَزع کے وقت سلامت مِرا ایمان رہے

# د غَل د پاره دُعا

يو ځل د حضرت رَبِيع بن خُثَيم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ اَس پټ کړے شو- په خوا کښې ناستو خلقو ورته عرض وکړو: " حضور غل ته ښيرې وکړئ!" هغوئي وفرمائيل: " نۀ بلکې زۀ خو

به د هغوئي د پاره هُم دُعا کووم- بیا یې داسې دُعا وکړه: ”اے الله پاکه! که چرې غَل مالداره دے نو د هغهٔ زړهٔ ته قناعت عطا کړې او که غریب دے نو هغهٔ مالداره کړې-“ (حلية الاولياء، 130/2، رقم:1696)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خدائے دې نه کړي که چرې غلا یا ډاکه وشي نو هر چا ته د وئیلو پهٔ ځائے خپل مصیبت پټ کړئ، صبر پرې وکړئ او اجر وګټئ- خلقو ته د وئیلو سره خو در له څوک د لاس نه تلے څیز واپس خو نه راوړي، نتیجةً د ګیلو معنو شکل کښې د میلاؤیدونکي آجر نه محرومه کیدے شئ-

## پهٔ ظلم باندې د صبر کولو فضیلت

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: الله پاک چې به کله مخلوق راجمع کوي نو یو اعلان کوونکے به اعلان کوي: فضل والا چرته دي؟ نو بعضې خلق به ودریږي او د هغوئي شمیره به ډیره کمه وي- چې کله دوئي زر د جنَّت طرف ته روان شي نو فرښتے به د دوئي سره ملاقات کوي او وائي به: مونږه وینو چې تاسو پهٔ تیزئ سره د جنَّت طرف ته ځئ، تاسو څوک یئ؟ هغوئي به جواب ورکوي: مونږه د فضل والا یو- فرښتے به وائي: ستاسو فضل څهٔ دے؟ هغوئي به جواب ورکوي چې کله به پهٔ مونږ باندې ظلم کیدلو نو مونږه به صبر کولو او چې کله به زمونږ سره بد سلوک کیدلو نو هغه به مو برداشت کولو- بیا به هغوئي ته وه وئیلے شي چې جنَّت ته داخل شئ د ښه عمل کوونکو ثواب څومره ښه دے- (الترغيب والترهيب، 281/3، حديث:18) د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: مظلوم چې تر څو پورې پهٔ ظُلم باندې صبر کوي نو الله پاک د هغهٔ عزّت زیاتوي- (ترمذی، 145/4، حديث:2332)

ہے صبر تو خزانۂ فردوس بھائیو! عاشق کے لب پہ شِکوہ کبھی بھی نہ آ سکے

## د ډاکو توبه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول پهٔ برکت د غټو غټو ډاکوانو د هدایت نصیب کیدو ډیرې واقعې دي- د

دعوتِ اِسلامي يو مجلس رابِطه بِالعلما هم دے، د دې مجلس اِسلامي ورور مشهورې دِيني مدرسې جامِعه راشِديه (پيرجو گوٹھ بابُ الاسلام سندھ) ته تشريف يوړلو- پۀ خبرو کښې د هغه ځائے شيخُ الحديث صاحب څۀ داسې وفرمائيل: د جَيل خانو د دِيني کار کارکردگي زۀ تاسو ته پخپله بيانووم، د پيرجو گوٹھ پۀ اطرافو کښې يو ډاکو تباهي شروع کړې وه، ما هغۀ پيژندلو، هره ورځ به د پوليس سره د هغۀ څۀ نا څۀ روان وو، ډير ځل ونيولے شو خو تعلقات به يې استعمال کړل او ازاد به شو، اخر پۀ څۀ جرم کښې د کراچۍ پوليس ونيولو، د سزا حکم وشو او جيل ته لاړو، د سزا تيرولو نه پس چې کله ازاد شو نو زما خوا له راغلو، ما پۀ ورومبي نظر کښې هغۀ اونه پيژندلو ځکه چې د هغۀ پۀ مخ باندې د مدينے د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبت نخښه، نُوراني گيره وه، پۀ سر باندې يې عمامه [يعني پټکے] مبارک وو، پۀ تندي باندې يې د نمونځونو نُور ځليدلو، هغۀ وه وئيل: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د جيل دننه زما د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول نصيب شو-

اگر چور ڈاکو بھی آجائیں گے
تو سدھر جائیں گے گر مِلا دینی ماحول
گنہگارو آؤ، سیہ کارو آؤ
گناہوں کو دیگا چھڑا دینی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص 203)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

# حلال وګټئ

رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: روحُ القدُس (يعني حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام) زما پۀ زړۀ کښې واچول چې يو کس به هُم نۀ مرې کيږي تر څو پورې چې هغۀ خپل رزق پوره نه کړي، ياد ساتئ چې د الله نه ويريږئ، د رزق پۀ لټولو کښې درميانه لاره اختيار کړئ او پۀ رزق کښې ناوخته کيدل تاسو پۀ دې خبره باندې اونه غلوي چې تاسو د الله پاک پۀ نافرمانۍ سره رزق ولټوئ ځکه چې د الله سره شيزونه هُم د هغۀ پۀ فرمانبردارۍ سره حاصليدلے شي- (شرح السنة، 330/7، حديث: 4008 ملخصاً)

**شرح حديث**: يعنې پهٔ حلاله ذريعه باندې رزق وګټئ او د حرامو ذريعو نه بچ شئ! پهٔ حرامو ذريعو ګټل اِفراط (يعنې د حد نه اوختل) دي او بالکل ګټه نه کول بے کاره کښيناستل تفريط (يعنې د حد نه زيات کمے کول) درميانه لاره ده (چې) که چرې رزق کم ميلاؤ شي يا يو څو ورځې ميلاؤ نه شي نو د غلا، جوارئ، رشوت، خيانت، غصب وغيره پهٔ ذريعه د رزق حاصلولو کوشش مهٔ کوئ، حلال کار کوئ د هغهٔ د مهربانۍ نه طمع ساتئ يعنې د ټولو رزق هُم د الله پاک سره دے، که چرې تاسو دا پهٔ حرامه ذريعه حاصل کړو نو هغه حرام تاسو ته راورسيدو، رَبّ هم ناراضه شو خو ميلاؤ هُغه څهٔ شول څهٔ چې ستا حصه وه او که چرې پهٔ حلاله ذريعه دې حاصل کړو نو حلال تا ته راورسيدلو الله پاک هم راضي شو، او ستا حصه هُم ميلاؤ شوه-

(مِرأة المناجيح، 114/7)

## د غټو غټو بريتو والا بدمعاش

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د عِلمِ دِين د حاصلولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو نه ډک اجتماعات هم اهمه ذريعه ده، تاسو هم پهٔ خپل ښار کښې پهٔ کيدونکو هفته وارو د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو کښې شرکت وکړئ، د دې اجتماعاتو پهٔ ذريعه د څنګه څنګه خراب شوو خلقو پهٔ ژوند کښې مَدَني انقلاب راغلو د دې يوه نظاره پهٔ دې مَدَني سپرلي کښې ولولئ: يو عالِم صاحب کوم چې د دعوتِ اِسلامي مبلغ دے هغوئي وه وئيل چې پهٔ کال 1995ء کښې يو کَس پهٔ چا باندې چې کمې او زياتې يولس د ډاکې مقدمې وې پهٔ کومو کښې چې يوه د قتل مقدمه هم شامله ده- يو کال يې پهٔ جيل کښې هم تير کړے وو- تنخوا يې درې زره روپۍ وه خو هغهٔ به د ناجائزه ذريعو نه مثلاً د وَنو خرڅولو، د اوبو د غلا وغيره پهٔ ذريعه د مياشتې تر لس زره روپو پورې جوړولې، د هغهٔ غټې غټې بريت وو، کتونکي به د هغهٔ نه ويريدل، يوه ورځ ما انفرادي کوشش وکړو او هغهٔ له مې د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو خو هغهٔ زما د دعوت نه انکار وکړو، ما حوصله اونه بائلله وخت پهٔ وخت به مې ورته دعوت ورکولو، اخر څه کم يا زيات دوه کاله پس هغهٔ دعوت قبول کړو او هغهٔ د

”تماچي“ سره پۀ اجتماع کښې شرکت وکړو، اتفاقي طور پۀ هغه ورځ هم د هغه عالِم صاحب بيان وو کوم چې د دوزخ د عذاب پۀ باره کښې وو، د دوزخ د تباهۍ باره کښې چې يې واوريدل نو د سختې يخنۍ باوجود هم پۀ بدمعاش باندې خوله راغله، د اجتماع نه پس به هغۀ ژړل او وئيل به يې: هئ! زما به څۀ کيږي! ما ډير ګناهونه کړي دي- بيا د هغۀ درې ورځې تبه وه، هغۀ پۀ خپلو ګناهونو باندې پښيمانه شوے وو، هغۀ توبه کړه او نمونځونه يې هم شروع کړل، د دويم زيارت پۀ ورځ باندې د هغۀ بيا پۀ اجتماع کښې د شرکت کولو سعادت نصيب شو او د جنّت پۀ موضوع باندې چې يې بيان واوريدو نو د هغۀ يوه طمع پيدا شوه، پۀ ورو ورو هغۀ پۀ مَدَنې رنګ کښې رنګ شو، تر دې پورې چې هغۀ د دعوتِ اِسلامي دِينې ماحول ته راغلو، د ګيرې پريښودو او د عمامې پۀ سر کولو سعادت يې هم نصيب شو- د دې بيان پۀ وخت هغۀ د دعوتِ اِسلامي پۀ دِينې کارونو کښې مشغول دے او تنظيمي طور پۀ صوبائي سطح د مجلسِ خُدّامُ المساجد ذمه دارۍ ترسره کوي-

اگر چور ڈاکو بھی آجائیں گے
تو سدھر جائیں گے گر ملا دینی ماحول
گنہگارو آؤ،سیہ کارو آؤ
گناہوں کو دیگا چُھڑا دینی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص 648)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

د ځان او مال د حفاظت د پاره يو څو روحاني علاجونه وړاندې کولے شي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې پۀ برکت به د ځان او مال او د کور وغيره حفاظت کيږي-

## د غلو او ډاکوانو نه د حفاظت شپږ وظيفے

﴿1﴾ د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پۀ منبر دا اوريدلي دي: څوک چې د شپې د اوده کيدو پۀ وخت دا (يعنې آيَةُ الکرسي) ولولي الله پاک به هغۀ، د هغۀ کور او خواۀ شاه کورونه محفوظ کړي-

(شعب الايمان، 2/458، حديث:2395)

شَرحِ حدیث: د دې پهٔ برکت به پهٔ ټوله محله کښې د غلا، وور لګیدو، د کور راپریوتو بلکې د ټولو ناڅاپي افتونو نه تر سحره پورې امن وي دا عمل ډیر مجرب دے-

(مراٰۃالمناجیح، 126/2)

﴿2﴾ که چرې دا ولیکې او پهٔ فریم کښې یې بنده کړې او پهٔ کور کښې یې پهٔ یو اوچت ځائے کښې ولګوې نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! پهٔ هٔغه کور کښې به چرې هم لوږې نه راځي بلکې پهٔ رزق کښې به برکت وي او هٔغه کور ته به چرې هم غل نه شي راتلے-

(مدنی پنج سورہ، ص 30)

﴿3﴾ " یَاجَلِیْلُ" 10 کرته ولولئ او پهٔ خپل مال او سامان او پیسو وغیره باندې یې دم کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د غلا نه به محفوظ وي-(مدنی پنج سورہ، ص 289)

﴿4﴾ "سُوْرَۃُالتَّوْبَۃ" [پخپله] ولیکئ یا یې [ پهٔ بَل چا باندې] ولیکئ او د پلاسټک کوټنګ یې وکړئ او پهٔ خپل سامان کښې یې کیږدئ!اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د غلا نه به محفوظ وي-
(چڑیا اور اندھا سانپ، ص 29)

﴿5﴾ که مال غلا یا ورک شي، د دې آیت مبارکه د بے شمیره ځل وئیلو سره به میلاؤ شي، اِنْ شَآءَ اللّٰہ-

یٰبُنَیَّ اِنَّهَاۤ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِیْ صَخْرَةٍ اَوْ فِی السَّمٰوٰتِ اَوْ فِی الْاَرْضِ یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ (۱۶) (پ 21، لقمٰن:16)

(چڑیا اور اندھا سانپ، ص 29)

﴿6﴾ که چرې د شپې د اوده کیدو پهٔ وخت 21 کرته "بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم "وولولې نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! مال او سامان به د غلا نه محفوظ وي او د ناڅاپي مرګ نه به هم حفاظت کیږي-

(جنتی زیور ، ص 579)

## د شجرۀ عطّاريه مَدَني سپرلے

د کراچۍ په نيا آباد علاقه کښې يو اِسلامي ورور په سلسلهٔ قادريه عطاريه کښې مُريد وو، هغوئي قَسم وخوړلو او بيان يې کړل چې يو ځل د هغوئي دفتر ته ډاکوان راغلل او وسله يې راويستله او لوټ کول يې شروع کړل- د هغوئي سره په دننه جيب کښې 90 زره روپۍ وې او په مخکښې جيب کښې يې يو څو نوټونه وو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغهٔ مطمئين وو ځکه چې هغوئي د شجرهٔ قادِريه رضويه عطّاريه نه دا دُعا لوستلې وه: ''بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰى دِيْنِىْ بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰى نَفْسِىْ وَوُلْدِىْ وَاَهْلِىْ وَمَالِىْ ''

د دې دُعا فضيلت دا دے چې څوک دا سحر او مابنام درې درې کرته ولولي نو د هغهٔ دِين، ايمان، ځان، مال بچې ټول به محفوظ وي- (**الوظيفة الكريمة**، ص 13)

په دې کښې يو ډاکو د هغوئي خوا له راغلو او د هغوئي د جيب نه يې 50 روپۍ راويستلې، هغوئي سوچ وکړو چې که 90 زره وي او که 50 روپۍ د دې دُعا په برکت خو د ټولو حفاظت پکار دے، اوس لا هغهٔ په دې سوچ کښې وو چې ډاکوانو لکونه روپۍ لوټ کړې او روانيدل نو هم هُغه ''ډاکو'' کوم چې د هغوئي د جيب نه 50 روپۍ راويستې وې، د هغوئي خوا له راغلو او دا يې وه وئيل چې مولانا! څهٔ به ياد ساتې 50 روپۍ مې درله واپس په جيب کښې کېښودې-

اے نگہبان مرے تجھ پہ صلاۃ اور سلام　　دو جہاں میں ترے بندے ہیں سلامت محفوظ

(**ذوقِ نعت**، ص 147)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net